# پر ساينس او نړيوالو چارو د پګواش کنفرانسونه

www.pugwash.org


| | | | |
|---|---|---|---|
| c/oAccademiadeiLincei<br>Via dellaLungara 10<br>I-00165 روم، ايټاليا<br>T: (+39) 06 687-8376<br>M: (+39) 333-456 6661<br>برېښناليک: claudia@pugwash.org | 7bis Avenue de la Paix, دويم پوړ<br>1202 جينيوا، سويزرلېنډ<br>T: (+41-22) 9073667<br>F: (+41-22) 9073669<br>M: (+41-79) 659-8186<br>برېښناليک:sergey@pugwash.org | د ځمکني پوړ کور<br>63A Great Russell Street<br>لندن WC1B 3BJ, بريتانيا<br>ګرځنده ټليفون:7920-747560 (44+) برېښناليک:<br>برېښناليک: sandra@pugwash.org | 1211 Connecticut Ave., NW, Rm. 828<br>واشنګټن، ډي سي. 20036<br>ټليفون: 3440-478 (202-1+)<br>برېښناليک: pugwashdc@aol.com |


د مهرباني له مخې ځواب ورکړئ: **د روم دفتر [ X ]** د جينيوا دفتر[ ] د لندن دفتر[ ] د واشنګټن ډي سي دفتر[ ]

## د افغان سولې پروسې د شونې ترون اړونده ځينې ټکي

د افغانستان خلک له ۳۷ کاله جنګ جګړو (او بهرنيو يرغلونو) څخه وروسته د سولې بيا راتلو ته ډېرې هيلې لري. ټول خلک له جنګ څخه ستړي دي. د دولتي ځواکونو او طالبانو تر منځ پرلپسې جنګونه به هېڅ يوه پلو ته بامفهومه "برى" ور په برخه نه کړي. له همدې امله يوه بيرني جوړجاړي او ترون ته عاجله اړتيا ليدل کيږي څو په پاى کې د افغانستان په ټولو سيمو کې وسلې پر ځمکه کېښودل شي. لاندې ځينې هغه لومړني ټکي وړاندې کيږي چې د دغه راز يوه ترون په تشريح کولو کې بايد په نظر کې ونيول شي.

1. د ترون د لاسليک کېدلو پر وخت بايد په ټول افغانستان کې اوربند رامنځ ته شي. د ترون په وخت کې بايد طالب ځواکونو ته په خپلو ځايونو کې د پاتې کېدلو اجازه ورکړل شي څو بيا پخلايني لپاره يوه توافق ته سره ورسيږي څنګه چې يې لاندې يادونه شوې ده. د قلمرو د کنټرول په اړوند، دوه اصلي لوري (اوسنی افغان دولت او طالبان) د افغانستان د قلمرو په همغږي مديريت باندې موافقه کوي. د اوسني دولت او د طالبانو د خوځښت تر منځ د انتقالي حکومت لپاره د وړانديز په اړه هم بايد په مناسبه توګه پوهه ترلاسه شي.[1] په هر صورت، د افغانستان د خاورې او خلکو يووالى بايد په هر قيمت وساتل شي.
2. د اوربند د تصديق لپاره بايد يو مناسب مېکانېزم رامنځ ته شي. د اوربند په تصديق کې ځانګړی رول، ځانګړو ملي کمېټو، محلي سپين ږيرو او مشرانو او په احتمالي توګه ملګرو ملتونو ته ورکول کېدلى شي.
3. ترون کوونکي دواړه لوري به يو ځاى کار وکړي څو د افغانستان په ټوله خاوره کې د توکو او د خلکو د خوځښت او ګرځېدنې د بشپړې او چټکې ازادۍ ضمانت وکړي.
4. هغه تور لستونه بايد له منځه يوړل شي چې د طالبانو له خوځښت يا له کوم بل سياسي خوځښت سره د تړاو لرونکو خلکو ګرځېدنه محدودوي..[2]

[1] په حقيقت کې د قدرت د وېش په اړه پوهېدنه يوه حساسه موضوع ده. د انتقالي حکومت تشکيل، موده او دقيق رول بايد په مناسب ډول تشريح شي.

[2] د ملګرو ملتونو په پرېکړې د تورو ليستونو له منځه وړل د ملګروملتونو امنيت شورا يا UNSC پرېکړې ته اړتيا لري. د ترون لوري موافقه کوي چې د تورو لستونو د ژر تر ژره له منځه وړلو لپاره به قوي هڅې وکړي.

5. په هغه صورت کې چې د تړون ټکي په ښه نیت سره پلي شي، د تړون له لاسلیک کېدلو څخه وروسته د درېیم کال په پای کې باید د بهرنیو پوځي ځواکونو شتون ته د پای ټکی کېښودل شي. هغو ځواکونو ته به استثنا ورکړل شي چې په افغانستان کې د بېلا بېلو بهرنیو هېوادونو د ډیپلوماتیکو ماموریتونو خوندیتوب کوي.
6. افغانستان به هېڅکله د هغو خلکو کوربه‌توب ونه کړي چې له کوم بل هېواد، په ځانګړې ډول د مختلفو سیاسي، مذهبي او اقتصادي جوړښتونو درلودونکو هېوادونو سره نړیوال جنګ ته د ودې ورکولو موخه ولري. ټولې خواوې په دغې برخې کې د همکارۍ کولو لپاره په بشپړه توګه ژمن دي.
7. د طالبانو د خوځښت [یا نورو وسلوالو ډلو] جنګیالي، چې اوسمهال بندیان دي، په احتمالي توګه د بښنې د اوسني قانون [او موافقه شوو تعدیلاتو] مطابق باید ازاد شي. په دغې بښنې کې به د ملکي وګړو د نړیوالې وژنې، زبر زنا یا نورو شخصي تاوتریخوالو اړونده قضیې تر پوښښ لاندې ونه نیول شي.
8. ټول هغه افراد چې له طالبانو سره بندیان دي باید آزاد شي، په هغه صورت کې چې د قتل د جرم، زبرزنا او یا د شخصي تاوتریخوالي د نورو ډولونو مرتکبین شوي وي، باید د محاکمې لپاره د افغانستان دولت ته وسپارل شي.
9. د تړون دواړه لوري باید د بیان او نظر د ازادۍ تضمین وکړي. هر ملکي وګړی به قانون ته په درناوي د وینا د ازادۍ حق ولري. د بشري حقونو او په ځانګړي ډول د ښځو حقونو بشپړ درناوی باید وشي او دغه درناوی باید د قانون له لوري تضمین شي.
10. افغانستان یو اسلامي هېواد دی او د افغانستان قوانین دغه اصل ته درناوي کوي. البته له هیچا سره باید د مختلف مذهب یا یوې ځانګړې سیاسي نظریې درلودلو له مخې تبعیض ونه شي او نه سزا ورکړل شي. د اسلام یا کوم بل دین څخه سرغړونې یا سپکاوي ته باید اجازه ورنه کړل شي او د اوس په څېر به د سرغړونې په صورت کې مجازات شي.
11. په اساسي قانون باید له سره بیا کتنه وشي، نوې اساسي قانون به د دې تړون له لاس لیک څخه یو کال وروسته افغان ولس ته د تصویب لپاره وړاندې شي. په بیا کتنه کې باید د تړون د پلی کېدو لپاره ټول اړین مواد او نور هغه مواد شتون ولری چې په احتمالی توګه د افغانستان د سیاسی ډلو او خوځښتونو له لوری یې په ګډه سپارښتنه کیږي. ټاکل شوی اداره ( لویه جرګه) کولاي شي د اوسنی افغان حکومت او طالبانو له لوری نور ځانګړی وړاندیزونه تصویب او یا رد کړي.
12. په اساسي قانون کې باید په هر حالت د جنس، نژاد یا مذهبي او سیاسي باورونو څخه په ازاد ډول د ټولو افغانانو پر حق ټینګار وشي، څو خلک د ډېرې لوړې کچې پوهنیز سیستم ته لاسرسی پیدا کړي، (قانوني) اقتصادي فعالیتونو ته وده ورکړي، ټولو دولتي منصبونو ته د رایه ورکولو او رایی اخېستلو، د شخصي مالکیت اړونده یو شان حقونه او همدا راز عدالت، طبیعي زېرمو او روغتیایي خدمتونو ته یو شان لاسرسی ولري.
13. دواړه لوري موافقه کوي چې افغانستان به د اقتصادي ودې، د طبیعي زېرمو د مدیریت او د چاپېریال او کلتور ساتنې لپاره نړیوالې همکارۍ ته ښه راغلاست ووایي. افغانستان به له نږۍ له نورو هیوادونو په ځانګړی ډول له نږدې او لرې ګاونډیانو سره دوستانه او د همکارۍ اړیکې ولري. د هغو بهرنیانو شتون ته به ښه راغلاست وویل شي چې د افغانستان په بیاجوړونه او پرمختګ کې مرسته کوي.
14. د طالبانو د جنګیالیو د بیا یو ځای کېدنې او پخلاینې یوه پروسه باید تشریح شي. د بیا یو ځای کېدنې په یادولو سره، مونږ په ځانګړي ډول له وسلوالو ځواکونو او ملي او ولایتي پولیسو سره د پخوانیو جنګیالیو یو ځای کېدنې ته رجوع کوو. په عمومي توګه، که چېرې د تړون دواړه خواوې موافقه وکړي، افغانستان لپاره د (بې وسلې کولو، جنګ پرېښودلو او بیا یو ځای کېدنې DDR) پروګرامونه باید عملي شي.
15. د ناقانونه نشه یي توکو د کرنې ، پېر او پلور مخنیوی باید وشي.
16. د تړون له لاسلیک کېدلو څخه وروسته په یوه کال کې دننه[3] به عمومي ټولټاکنې (په دواړو ملي او ولایتي کچو) ترسره شي. د ټولټاکنو د پروسې مناسبه څارنه باید وشي. له ټولټاکنو څخه وروسته به د هېواد اداره په بشپړه توګه نوي ټاکل شوي حکومت ته وسپارل شي. کټونکی ګوند یا د ګوندونو ایتلاف به په اساسي قانون کې د ټاکل شوې مودې لپاره د هېواد چارې اداره کړي.
17. د هېواد قوانین باید د شریعت له احکامو سره برابر وي. د دغه اصل د پلي کولو لپاره به د انتخاب شوو او بې پرې علماوو د یوې اداري پنځول اړین وي.

یاددښت: د قدرت د غیرمرکزي کولو د پروسې پر شونتیا هم بحثونه ترسره شول، چې ممکن دا فرصت ولري څو والیان او ولایتي شوراګانې وټاکي څو هغوی د ملي قوانینو مطابق به د ولایتي قوانینو د تصویبولو صلاحیت ولري.

[3] یا زیاته موده څنګه چې د اداري لوژیستیکي محدودویتونه ورته اړتیا ولري.

**کله چې تړون نهايي شي، هغه ټول هېوادونه به د دغه تړون د مادو د درناوي لپاره راوغوښتل شي چې په افغانستان کې ځانګړې علاقه لري او د دغه تړون د بريالي پلي کېدو لپاره به د ښه نيت له مخې او تر خپله وسه همکاري وکړي.**

* * *